بسم الله الرحمن الرحیم

# اردوغان خپله بریا په سندره ولمانځله

(ژباړه)

**خبر:**

د ترکیې ولسمشر، رجب طیب اردوغان د خپل سیال، کمال قلیچدار اوغلو پر وړاندې دویم ځل ټاکنو تر ګټلو وروسته په استانبول کې د خپلو پلویانو په منځ کې سندرې زمزمه کړې. اردوغان په داسې حال کې د خپلې ښځې ترڅنګ د یوه بس پر سر راښکاره شو چې د ده او د ده د حزب د بریا لپاره جوړه شوې سندره یې له خپلو پلویانو سره یو ځای بلله. (سرچینه: العربیه وېبپاڼه)

**تبصره:**

دغه خبر ماته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه خبرې را په یاد کړې؛ هغه چې د مسلمانانو خلیفه شو، ویې ویل:

**«یا أیُّها الناس، قد وُلِّیت علیکم ولست بخیرکم، فإن رأیتمونی علی حقٍّ فأعینونی، وإن رأیتمونی علی باطل فسدِّدونی، أطیعونی ما أطعتُ الله فیکم، فإذا عصیتُه فلا طاعة لی علیکم، ألا إنَّ أقواکم عندی الضعیف حتی آخذ الحقَّ له، وأضعفکم عندی القویُّ حتی آخذ الحقَّ منه، أقول قولی هذا وأستغفر الله لی ولکم»**

**ژباړه:** «اې خلکو! زه ستاسو د چارو سرپرست شوی یم؛ خو تر تاسو غوره نه یم. که مو د حق پر لاره ولیدم؛ مرسته مې وکړئ او که مو ولیدل چې په باطل کې یم؛ نو مخه مې ونیسئ. څو چې د الله سبحانه وتعالی اطاعت کوم، زما اطاعت وکړئ. که مې د الله سبحانه وتعالی له امر څخه سرغړونه وکړه؛ نو اړ نه یاست چې اطاعت مې وکړئ. ستاسو تر ټولو پیاوړی زما پر وړاندې تر ټولو کمزوری دی تر څو (د کمزوري) حق ورته واخلم. او کمزوری مو زما پر وړاندې تر ټولو قوي دي، تر څو (له ظالم) څخه د هغه حق ترې واخلم. دا خبره کوم او د خپل ځان او تاسو لپاره له الله سبحانه و تعالی څخه د بښنې غوښتنه کوم.»

دغې کیسې اړ کړم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلیفه؛ د هغه د خطبې او هغو سترو کارونو او خدمتونو ترمنځ پرتلنه وکړم چې د اسلام او مسلمانانو لپاره یې کړي؛ لکه: له مرتدینو سره قتال، د اسلام پلي کول او د

عدالت خپرول او د خلکو د چارو غوره تنظیم. ان عمر رضی الله تعالی عنه یې په اړه وویل: «اې ابوبکره، له ځان وروسته خلفاوو ته دې ستونزې جوړې کړې (یعنې خلک به د همدومره خدمت تمه ترې لري)!»

د ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه کیسه د دغه خبر تر اورېدو یاد ته راغله چې د یوه ستر اسلامې هېواد مشر سندرې وایي! کاش د ابوبکر صدیق رضی الله تعالی لسمه برخه کار دې کړی وای! کاش چې اسلام دې پلی کړی وای! کاش د خلکو چارې دې ښې تنظیم او رعایت کړې وای! کاش د الله سبحانه وتعالی له امر څخه دې سرغړونه نه وای کړې! کاش لږ تر لږه دې د مسلمانانو د نصرت او د اسلام د لېږد لپاره خپل پوځ بسیج کړی او په حرکت راوستلی وای...! کاش!

کاش چې دا قوم پوهېدلای!

**لیکوال: خلیفه محمد**

**۱۴۴۴هـ.ق کال، د ذی القعدې ۱۰مه**

**۲۰۲۳م کال، د مې ۳۰مه**

ژباړه: فریدون محتاط